AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عارف رسولي

۲۰۲۲/۰۱/۰۲

# راځئ د هېوادونو د ناکامۍ يو مهم علت

## يا د زېرمو لعنت وپېژنو!

### د سر خبرې:

په دې وختونو کې د پخوا په څېر يو ځل بيا په دې زيات بحثونه کېږي چې افغانستان زياتې کانې او د اوبو زېرمې او هم غوره ستراتېژيک موقعيت لري، موږ به ګواکې زر بډای کړي. دا زموږ لپاره يوه مهمه مسئله ده، نو اړتيا ده چې د دې مسئلې ټولو فرصتونو او ننګونو ته ژوره کتنه وکړو، ورباندې څېړنيزې علمي ليکنې وکړو، کنفرانسونه او سيمينارونه ورباندې داير او عامه پوهاوی يې په هکله زيات کړو تر څو د مسئلې په ټولو اړخونو او حقايقو د نړيوالو تجربو او علمي څېړنو په رڼا کې ټول خبرشو او چاروکو ته مو د سمو پرېکړو لاره اواره شي.

### د زيرمو لعنت(Resource Curse)

دا منو چې افغانستان د خپلو کانې غني زېرمو، د اوبو د سرچينو، او د ستراتېژيک موقعيت له مخې ستر فرصتونه او ننګونې دواړه لري، کارپوهان وايي تر اوسه يې موږ ګټه نه ده ليدلې خو تاوانونه يې راته دا وو چې موږ څوک نه پرېږدي چې په پښو ودرېږو او په موږ کې چې هم دا وړتيا لانشته چې په خپله خاوره رښتينی خپل اختيار ولرو او له خپلو امکاناتو سمه ګټه واخلو، د واک او ځواک لرونکی نظام جوړ کړو، فقر او لوږه ختم او هېواد د پرمختللو هېوادونو په کتار کې راولو، د د دې زېرمو د ننګونو په ډله کې د زېرمو لعنت هم راځي چې دلته ورباندې خبرې کوو.
په نړۍ کې د کانې زېرمو او اوبو د سرچينو څخه ګټه اخيستنه تل ستونزمن کار وي دا ځکه چې دا زېرمې اکثره په پورتنيو غرنيزو بېوزلو هېوادونو کې واقع وي او دا کار زياته پانګه، تخنيکي او مديريتي پوهه، ښه رهبري ، ښه حکومتولي او تر ټولو مهم ملي ثبات غواړي چې اکثره دا فقير غرني هېوادونه يې نه لري.
که داسې هېوادونه له خپلو زېرمو لږ ګټه د خارجي استثمارونکو او زبېښونکو کمپنيو او کارپورشنونو له لارې پيل هم کړي خو خپله پورته ورتباوې ونه لري، زيات وختونه د ګټې په ځای ورته زيان رسوي.
لمړی خو په داسې شرايطو او هېوادونو کې دولتونه، قانونيت او ملي بنستونه له ځايه کمزوري وي، نو لويې کمپنۍ له زوروړو کسانو سره د زياتې او اسانه ګټو لپاره پټې غير قانوني راکړې ورکړې پيل او د فساد کچه را زياته بنستيزه او پېچلې کړي، بل دا چې دکانونو په سکتور کې ستري پروژې زيات کار نه خلق کوي، ځکه داسې پروژې په نسبي توګه زيات کسان په کار نه ګوماري، زيات ماهر کارګران يې هم بهرني وي، د قوي پرانيستو بنسټونو (نهادونو، Institutions)، مقرراتو او د قانون د حاکميت په نشتون کې چې ثروت عادلانه وويشي، څه پيسې چې ورنه لاسته راځي زياتې يې د همغو پورته معامله ګرو خاصو جيبونو ته ځي او په عامه رفاهي پروګرامونو کې نه مصرفېږي. نو فساد او زبېښونکي بنسټونه قوي کوي چې اصلاح يې زيات ستونزمنه شي او په دې توګه ملت ته د ګټې په ځای تاوان وکړي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په څير و لولئ

نو پورته شرایط داسي هېوادونه د زېرمو په لعنت چې په نړیواله کچه ورته د زېرمو لعنت (Resource Curse) وایي اخته کوي، دا ستونزه په نړیواله کچه منل شوې ده او د پورته شرایطو له کبله زیات هېوادونه وربانديې اخته دي او ځکه د نړیوال شفافیت په نامه بو میکانیزم رامنځته شوی چې له هېوادونو سره مرسته وکړي.
د منابعو لعنت ځکه ستر او دوام لرونکی وي چې ستر فساد هغه وخت رامنځته او زیاتېږي چې زیاتي پانګې ته د ناقانونه او پټو معاملو له لارې لاسرسی اسانه پیداشي، یوه وړه حلقه زیاته سرمایه په ناقانونه توګه تر لاسه کړي، زیات توان او نفوذ پیدا کړي چې مهم چارواکي واخلي او قوانین او مقررات په خپله ګټه تغیر کړي، دوی د ځو کالو په موده کې د کانونو تر سکتور ور اخوا د هېواد ټول اقتصاد تر خپل انحصار لاندې راولي، د زیاتو سترو ګټو لرونکو تجارتي راکړو ورکړو انحصار وکړي، فساد بنسټیز شي، قوانین، مقررات او بنسټونه یې لکه د شرکتونو جوړول، واردات او صادرات ټول له فساده ډک او زېښنونکي شي، دا معامله ګران چې په بهرنیو کمپنیو قانون نه پلې کوي او هغوی هم لګښت راکموي نو د ملک چاپېریال، اوبه او ښاري هوا ټول ککړ شي چې فقیرې پرګنې یې د چټلو اوبو او هوا رنځونه ګالي، د بېوزلو پرګنو ځمکې، جایدادونه او نور ورنه غصب او یا په لږ بیه اخلي، د کار په ورکولو کې عدالت نه وي نو په ټولنه کې بېعدالتي خوره شي، او لکه چې وایي: چې په جنګ شي نو په تنګ شي، نو شخړې په داسي هېوادونو کې را پورته شي او کیدی شي دولت یې په ناکام او ماتیدونکي دولت بدل شي.
آیا د داسي شرایطو مثالونه شته او که یوه خیالي موضوع ده
موږ په نړۍ کې داسي زیات هېوادونه لرو چې یو یا څو مفسد خو باقدرته پانګوال ټول ملي بنسټونه تر خپل کنټرول لاندې راولي، یو ښه مثال یې په مکسیکو کې د سلینو په نامه هغه کس دی چې د مکسیکو د ټیلیکام زورور شرکت دا توان ورکړی چې هرڅه انحصار کړي، ستر دولتي چاراوکي واخلي، له فاسد ولسمشر سره معامله لري، هغه ورته انحصاري قوانین مني او دی یې د ټاکنیز کمپاین پیسې ورکوي.
همدارنګه د منابعو د لعنت وهلو هېوادونو ښه مثالونه هم زیات دي او دلته یوازې د کانګو او نایجېریا دوو افریقایي سترو هېوادونو یادونه کوو چې خورا ستر او د منابعو له درکه غني هېوادونه دي خو ناکام دولتونه لري او په شخړو، فساد او فقر کې ډوب هېوادونه دي او علت یې همدا د منابعو لعنت دی.

## څه کول په کار دي؟

د دې لپاره چې له خپلو ترځمکې لاندې او اوبو له زېرمو او ستراتېژیک موقعیت څخه سمه ګټه واخیستلی شو لاندې څېزونو ته اړتیا لرو:

۱ -په هېواد کې ثبات، د قانون حاکمیت،ښه حکومتولي او له فساد سره مبارزه باید د دولت او ملت د اجندا په سر کې وي، ترڅو له لاسته راغلو پیسو د ټول ملت په ګټه د ملي بودیجې له لارې په ملي شفافو پروګراوومونو کې کار واخیستل شي.
۲ -د دې لپاره اړتیا ده چې دولت په ټوله حکومتولۍ کې د خلکو مشارکت، شفافیت یا رونوالی رامنځته کړي ځکه د قراردادونو ښه مدیریت یوازې په شفافیت او د خلکو په مشارکت او نظارت سره امکان لري. د زماني په تېرېدو سره دا ثابتېږي چې که د قانونو حاکمیت، رڼه مقررات، شفافیت او د خلکو نظارت نه وي، پاک چاراوکي فاسدېږي او د عامه شتمنیو لوټ ته لاس اچوي.
۳ -په هره ساحه کې د وړتیا لرونکي کادرونه وروزي، تر څو داسي ملي ظرفیت رامنځته شي چې د دې ټولې پروسې مدیریت وکړي،
۳ -په دې اړه قوانین او مقررات که شته او ستونزمن نه وي په کلک هوډ او کله سیاسي اراده پلې شي او که اصلاح ته یې اړتیاوي د پورته موخو د ترلاسه کولو لپاره د کارپوهانو په مرسته اصلاح او بیا پلې شي.
۴ -که موږ دا شیان غواړو نو په خپلو خلکو باید اعتماد ولرو او په مشارکت او نظارت کولو یې باید پانګونه وکړو او دا د فساد د کنټرول تر ټولو غوره او ارزانه او لنده لار ده


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ